مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخڒ ۲۰۲۰/۰۹/۱۹

# سوله، د سولې دولونه او سوله په اديانو کې

## (شپږمه برخه)

سوله په عيسويت کې (۲)

داسي ښکاري چي د عيسى (ع) ښوونې هغه مهال راغلي او ورپسي ليکل شوي وي چي د خپلو مخالفينو پر وړاندي يې د دفاعي جګړې ځواک نه درلود، (لکه د اسلام په لومړيو کې چي د جهاد احکام نه وو راغلي.) له بل پلوه د عيسويانو انجيلونه د عيسى (ع) له صعود څخه په لسګونو کاله وروسته ليکل شوي دي چي هغه مهال د عيسى (ع) لارويان (حواريون) د اسرايلو او خارجي يرغلګرو تر فشار لاندې وو دوی نه شول کولى د عيسى (ع) رښتيني آسماني احکام وليکي، پوهيږو چي آسماني اديان اوسط دينونه دي، افراط او تفريط ځای نه په کې لري په دې بنسټ ويلی شو چي د عيسويانو انجيلونه نيمګړي دي او هم اړول شوي او تحريف شوي دي، په وروستيو کې ځينو عيسوي پوهانو د دې له پاره چي په انجيلونو کې د جګړو د ترسره کولو له پاره الهي احکام رامنځ ته کړي او پر بنسټ يې جګړو ته شرعي بڼه ورکړي، د نه تاؤتريخولي او سولې د حکمونو او هداياتو پر خلاف يې د انجيلونو يو شمېر آيتونه چي په جګړو پورې تړاؤ نه لري، په بله بڼه اړولي دي، چي له امله يې د عيسويت دين په يو جګړه مار دين بدل کړ چي له مسلمانانو سره د عيسويانو صلبي جګړې يې ښې بېلګې دي. په دې اړه ښاغلی محمّد المختار الشنقيطي داسي وايي:

«په مسيحيت کې ترډېرو کلونو پورې د سپيڅلي جګړې فکر نه ؤ رامنځ ته شوی او مسيحيانو په دې باب کوم فکر نه ؤ کړی، ځکه چي حضرت عيسیَ يو سوله غوښتونکی انسان ؤ، خو د روم د امپراتورۍ د منځه تللو له امله مسيحي عالم سن اګوستين (چي په څلورمه عيسوي پېړۍ کې اوسيدلی دی) او د مسيحيانو نور حکيمان او متکلمان دې ته اړ شول چي د مقدس کتاب پر بنسټ د جګړې له پاره يوه روا لاره ومومي، دوی د اسلامي جګړو په شان د (عادلانه جګړې) د پلي کولو له پاره يو شمېر آيتونه په انجيلونو(نوی عهد) کې وموندل (او د خپلې خوښې او پوهې سره سم يې د جګړو کولو له پاره سرچپه تفسير کړل) چي په يو ډول سره يې خپلو جګړو ته ديني لاره پرانستله.» (از جنگ مقدّس تا صلح مقدّس) http://marifat.nashriyat.ir

عيسوی روحاني (سنت اګوستين (۳۵۴- ۴۳۰،ز) په شمالي افريقا کې عيسوی اسقف ؤ او د کاتوليکو مسيحيانو په منځ کې يې لويه رتبه درلودله نوموړی په مسيحيت کې د عادلانه جګړې (ديني جګړه) د پلار په توګه پېژندل شوی دی.)

د انجيل لاندې دوه آيتونه چي لومړی يې د خپلو دښمنانو سره د جګړې او کينې پر ځای د مينې کولو امر کوي او دوه يم يې د بدل (قصاص) نه اخيستلو په اړه راغلی دی، اګوستين د عيسیَ(ع) ياد شوي احکام په د ننه (باطني) تقوا پورې تړلي بولي، نه پر بدني او فيزيکي کړنو پورې.

«خو زه درته دا وايم چي د خپلو دښمنانو سره مينه کوئ» (متي انجيل ۵، باب/۴۴؛ لوقا،۶، فصل، ۲۷،آيت) «که څوک په ښي مخ څپېړه درکړي نو چپ مخ وروړاندې کړه.» (متي انجيل، ۵، باب، ۳۹)

اسقف اګوستين دغه آيتونه د خپلې خوښې سره سم داسې تفسير کړي دي:«دا ښوونې پر مسيحي روحانيونو او کشيشانو پورې اړه لري، په عامو خلکو باندې د پلي کيدو وړ نه دي؛ دغه ښوونې تر هغو کسانو پورې محدودې دي چي کله يو تن له وهلو ټکلو سره مخ شي، نه پر هغو کسانو پورې چي له نورو څخه ساتنه کوي؛ يا دا چي دا ښوونې د زړه له مينې سره تړاؤ لري، د بهرني عدالت سره کومې اړيکې نه لري؛ يا دا چي دغه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ښووني د ځانګړو کسانو له پاره ویل شوي دي، نه د حکومتي چارواکو له پاره چې په یو مقام کې کار کوي. د بېلګې په توګه، چارواکي حق لري چې خپلو سرتېرو ته هدایت وکړي.»
په پای کې آګوستین فتوا ورکړه ویې ویل:«جګړه کول د سولې ټینګولو په موخه وروستی وسیله ده، که د خلکو وژلو پرته، سوله د سولې له لارې رامنځ ته شي نو ډېر سپېڅلی عمل دی. نوموړی وایي: په انجیل کې یوازې تاوتریخوالي او وحشي جګړو ته جواز نه ورکول کېږي نه جګړې ته.»
اګوستین زیاتوي:«جګړه په هغه صورت کې مشروع او عادلانه ده چې، د جګړې د پیل له پاره عادلانه دلیل موجود وی؛ یو سیاسي او مشروع واکمن د جګړې کولو امر وکړي؛ واکمن باید ښه نیت او ښه انګیزه ولري؛ وروسته له هغې چې د سولې او روغې هلې ځلې پایلې ونه لري، نو جګړه دې پیل شي. (معصومه سادات میرمحمدي.http:\\wwww.marefateadyan.nashriyat.ir
د پورته تفسیر شوي آیت «خو زه درته دا وایم چې د خپلو دښمنانو سره مینه کوئ» ورآندې او وروسته آیتونه پر اصل مطلب باندې ښه رڼا اچوي چې کوم تفسیر ته هم اړتیا نه پاتې کېږي وایي:
«تاسو خبر یې چې هغوی[اسرایلو] ته ویل شوي وو چې، د خپل ګاونډي سره مینه کوئ او د خپل دښمن څخه کرکه، خو زه درته دا وایم چې د خپلو دښمنانو سره مینه کوئ او څوک چې په تاسو ظلم کوي د هغو له پاره دعا غواړئ، چې په دې تاسو د خپل آسماني پلار زامن (؟) شئ.» (متي انجیل ۵، باب، ۴۵/۴۴/۴۳)
«که څوک په ښي مخ څپېړه درکړي نو چپ مخ وروړاندې کړه.» د دې موضوع پوره مطلب داسې دی:«تاسو خبر یې چې دا ویلی شوي وو چې، د سترګې په بدل کې سترګه او د غاښ په بدل کې غاښ، خو زه تاسو ته دا وایم چې د هغه سړي پرخلاف مه درېږئ، څوک چې در سره بد کوي، که څوک په ښي مخ څپېړه درکړي نو چپ مخ وروړاندې کړه.» (متي انجیل، ۵، باب، ۳۹/۳۸؛ لوقا انجیل، ۶،باب، ۲۹،آیت)
د پورته دواړو یادو شویو آیتونو پر مطلب باندې هر څوک ښه پوهیږي چې اصل موخه یې څه ده او هیڅ ډول ابهام یا کوم بل باطني راز نه لري، خو د دې له پاره چې مسیحي روحانیون په ځانګړې توګه سنت آګوستین د عیسیٰ(ع) سوله غوښتونکو لاربښوونو ته تغیر ورکړي د دوی په نظر، عادلانه جګړو (مذهبي جګړو) ته لاره پرانیزي، په سرچپه توګه یې تفسیر کړي دي.
دا شان سنت اګوستین د مسحیانو په کتاب، انجیل کې د لومړنیو انسانانو(آدم او حوا) او د دوی د زوی د ګناهونو پر بنسټ عادلانه جګړه توجیه کوي (خپلې جګړې یې عادلانه وبللې) او په دې ګروهه دی چې آدم او حوا د الهي فرمان څخه سرغړونه وکړه او د دوی زوی هابیل خپل ورور وواژه، نو د دوی دا کړنې د خدای تعالٰی د احکامو نه منل وو، له دې امله چې انسانان د الهی احکامو څخه سرکښي کوي او جګړه غوښتونکي دي نو داسې یوه واکمن ته اړتیا ده چې وکړی شي د زور له لارې د بې عدالتۍ او بې نظمیو مخه ونیسي. (نظریه جنگ عادلانه در فلسفه سیاسی سنت آگوستین) http://occidentstudy.ihcs.ac.ir
د آدم(ع)، حوا او د دوی د زوی قابیل د ګناهونو یادونه په درو واړو آسماني کتابونو تورات، انجیل او قرآن عظیم کې شوې ده، چې په جګړو پورې کوم تړاؤ نه لري، کله چې آدم (ع) او حوا ګناه وکړه، د الله تعالیٰ پر وړاندې یې جرم کړی دی نه د انسانانو پر وړاندې چې له امله یې له باغ (جنت) څخه وایستل شول، دوی ته خدای تعالٰی سزا ورکړې ده، نه کوم انسان، بله دا چې قابیل خپل ورور هابیل وژلو نو د هابیل لخوا هیڅ ډول غبرګون ښکاره نه شو او له ځان څخه یې مشروع دفاع هم ونه کړه، لکه عیسیٰ(ع) چې د خپلو دښمنانو پر وړاندې غبرګون منع کړی دی، عیسیٰ(ع) وایي:«...که څوک په ښي مخ څپېړه درکړي نو چپ مخ وروړاندې کړه.» بل ځای فرمایی:«خپله توره په تیکه کې کېږده، څوک چې توري چلوي په تورو مري.» له دې څخه ښکاري چې د قابیل ظلم او د آدم (ع) او حوا، ګناهونه د اګوستین له عادلانه جګړو سره کوم اړخ نه لګوي، بلکې د هابیل دریځ او د عیسی (ع) له دریځ سره یو دی.
ډېر پوهان په دې ګروهه دي چې په مسیحیت کې د جګړو رامنځ ته کولو په برخه کې مسیحي پوهان د یهودیانو له خوا غولول شوي دي ځکه خو د صلیبي جګړو ډولونه او موخې لکه څرنګ چې په تورات کې د اسرایلو د جګړو یادوني شوي دي هغه شان دي.
د سولې د نوبل جایزې ګټونکی مارتین لوتر کینګ د عیسویانو تور پوستی کشیش، د شلمې پیړۍ په لومړیو کې د انجیل څخه په الهام اخیستني سره د نه تاوتریخوالي (عدم تشدد) کرنلاره خپله کړه چې نوموړی په خپله تګلاره کې بریالی شو، په امریکا کې یې تور پوستو وګړو ته حقوق ترلاسه کړل خو له بده مرغه چې په کال ۱۹۶۸، ز کې د خپلې عدم تشدد مبارزې له امله د امریکا په ممفیس ښار کې ترور شو. د مارتین لوتر کینګ تولې کړنې او غوښتنې د انجیل له موخو سره یو دي چې له هغو څخه لاندې ښووني د لیکلو وړ دي:
«موږ د خپلو مشروع غوښتنو د لاس ته راوړلو پخاطر باید ناوړه کړنې (جګړې) ونه کړو، موږ د خپلې آزادۍ تنده د دښمنۍ (جګړې) په ترخه جام باندې ماته نه کړو، موږ باید خپله مبارزه په عزت او د انضباط په لړلو سره پر مخ یوسو. هغه خلک چې د ستم لاندې دي انساني عدالت او کرامت ته د رسیدلو له پاره ښه وسیله د عدم تشدد وسله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

ده او په هره سيمه کې چې بې عدالتي وي، په نورو سيمو کې د عدالت له پاره تهديد دی، نو هر څوک اخلاقي مسؤليت لري چې غير عادلانه قوانين پلي نه کړي.»

دغه شان په هند کې مهاتما ګاندي هم د عدم تشدد سياست د انګرېزانو پر وړاندې خپل کړ چې نوموړی په دغه چاره کې برى ترلاسه کړ، ګاندي صاحب د عدم تشدد سياست انګيزه د انجيل څخه اخيستي وه، د ګاندي صاحب په ټولو اصولو کې د عيسى (ع) په شان تاؤتريخوالى او جګړه ځاى نه لري پر ګاندي صاحب باندې د عيسى (ع) سوله ييزو ښوونو تر دغه ځايه اغيز کړى ؤ چې نږدو ؤ عيسويت ومني. (ګاندي: ګونه اى زنده ګي: کريشنا کري پالاني، فارسي ژباړه غلام علي کشاني، ۳۵مخ)
د ګاندي صاحب مخالفينو به ويل:«ګاندي، د هندو به جامه کې مسيحي.» له بده مرغه چې ګاندي صاحب هم د مارتين لوتر کنګ په شان په کال ۱۹۴۸ ز، کې د يو هندو له خوا ترور شو.

د عيسى (ع) د غره په سر ښووني (وعظ) د ده دريځ په ښه توګه په ګوته کوي چې خورا ټولې نېکمرغۍ او ډاډينې په کې نغښتي دي وايي:
ـ بختور دي هغوى چې خپله اړتيا په خداى کې احساس وي، ځکه چې د آسمان پاچاهي د هغوى ده.
ـ بختور دي هغوى چې غمجن دي، هغوى ته به ډاډينه ورکړى شي.
ـ بختور دي هغوى چې بې کبره دي، دوى به د ځمکي وارثان شي.
ـ بختور دي هغوى چې د رښتياوو (صداقت) وږي تږي دي، دوى به ماړه شي.
ـ بختور دي هغوى چې رحم کوونکي دي، په هغوى به رحم وشي.
ـ بختور دي هغوى چې زړونه يې پاک دي، هغوى به د خداى ديدن وکړي.
ـ بختور دي هغوى چې امن راولي، خداى به هغوى ته خپل زامن (؟) ووايي.
ـ بختور دي هغوى چې د خدا د رضا له پاره کړول کيږي، د آسمان پاچاهي د هغوى ده.
ـ بختور يي تاسو چې زما له پاره په ځان ملامتي او سختي تېروى او د خلکو ډول، ډول دروغ او بدي خبري اورى.
ـ دا هر څه تاسو په خوشالي او روڼ تندي وزغمئ، ځکه چې په آسمان کې ستاسو له پاره لوى اجر دى، ستاسو څخه وړاندې هم دوى ستاسو په شان نبيان ربړولي دي. (متي: ۵ باب، ۳ تر ۱۲ آيت پورى)

د عيسويت دين له آره يو سوله ييز دين ؤ دا چې وروسته عيسوي روحانيونو په لوى لاس جګړه پرې وتپله، په عيسى (ع) پورې اړه نه لري، عيسىَ(ع) تر دې پورې ښوونکى او له غچ اخيستنې يې کرکه درلوده، (د عيسويانو په نظر) چې خپلو قاتلانو ته يې هم له خداى تعالىَ څخه ښښه وغوښته، ده وويل:«پلاره (؟) [خدايه] دوى ته ښښنه وکړه! هغوى نه پوهيږي چې څه کوي» (لوقا انجيل ۲۳، باب، ۳۴)
په پاى کې به دا ووايو چې عيسويت په حقيقت کې د هغې سپينې کوترې په شان چې عيسويان يې د سولې او روح القدوس نښه بولي د سولې او امن دين دی، نه د جګړو او تاؤتريخوالي دين.

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ